Preview (1 / 10) - ketabton.com



# په دې کتاب کې څه دي؟

لـــــه دې ســترګې نشـو پټولی چې انســاني ژوند د مبارزې ډګر دی او که د مبارزې په ډګر کې بریا غواړې، نو باید خپل جسمي او روحي ځواک په سم ډول وکاروې. همدا جســمي او روحي ځواک دی چې انســانانو ته د هوســا ژوند کولو لارې چارې ور په ګوته کوي.

زموږ د ټولنې زیاتره وګړي په ځانګړي ډول ځوانان په خپلو ارواحو کې د کمزورۍ ټکي له قســمت سره تړي او غواړي خپل مســولیت په ارثي عواملو ورواچوي. ځینې کورنۍ بیا خپلو عقیدوي باورونو دومره کمزورې کړې وي چې له هیڅ شي سره د مقابلې وس نه لري او برعکس ځینې کورنۍ خپلو عقیدوي باورونو دومره ځواکمنې کړې وي چې په هیڅ ډول تیري او ظلم صرفه نه کوي او دا ورته غیرت ښکاري، دلیل یې دا دی چې دوی د باورنو په اصلي مفهوم نه دي پوه شي. په دې کتاب کې د باورونو په اړه خبرې شوي دي، دا راښایـــي چې قوي باورونه د بریالیتوب دروازه ده، ځواک ته پراختیا ورکوي او ژوند منظموي.

که ځوانــــان په ایماني ځواک باندې باور ولري او په دې پوه شئ چې فکري ځواک کومې معجزې لري، خامخا لوړ مقام ته رســېږي. دا کتاب د ارادې د ټینګښـــت په اړه داســـې بحث کوي چې: اراده د ایمان یو ډول دی. اراده یعنې د یـــوه کار د تر سره کولو پریکړه او د ایمان له نښو نه د هغه کار د تر سره کولو ورتیا.

پـه ټولـه کې دا کتـاب د ځواک پـه اړه دی، هغـه ځواک چې هر کس یې غوښـــتونکی دی، هر شـــخص یې په لټه کې دی. څوک نه غواړي چې له جســـمي او روحي پلوه دې ځواکمن وي؟ یقینا هر کس غواړي چې د خپل ځواک په واسطه خپلو هیلو ته ورسېږي، د دې کتاب اصل موضوع همدا ده چې خپلو هیلو او غوښـــتنو ته د رســـېدو لپاره خپل ځواک څنګه وکاروو او

Preview (2 / 10) - ketabton.com



څنګه د نـــاتوانۍ له فشار څخه وژغورل شو؟ دا کتاب يې ځوابوي: لوی فکر او نعمت ته مو په ټول ځواک سره په مغز کې ځای ورکړئ. ګل له تخم رامنځ ته کېږي، ځواک هم لومړی په فکر کې وي. د اوســـنۍ نړۍ ټولې برياوې، د فکري ځواک د ســـمې کارونې پايلې دي. که د فکر ځواک نه وای، نه به اديســـون برق اختراع کولو او نه به مورس تلګراف. نه به د ځمکې د جاذبې قوه کشـفېدله او نه به د ځمکې پورته سـاحه کې د جاذبې قوې نشـتون. څه شيان به وي چې د خيال د ځواک احسانمن نه وي؟

په کتاب کې د ځواک او فکري تجسم لپاره ځينې عملي تمرينونه هم ښودل شـــوي دي، دا تمرينونه ســـاده، خو ډېر ګټور دي. د دې تر څنګ د ژوند منظمولو عملي لارې چارې پکې ښـــودل شـــوي دي. کتاب د خوراک او څښـــاک د منظمېدو لارې چارې او ګټې راښـــايي. د تلپاتې ځواک (همدا کتاب) توپير له نورو کتابونو سره دا دی چې دا کتاب د ارواپوهنې اصـــلي موضوع وړاندې کوي.

د ســـترڅښـــتن تعالی شـــکر ادا کوم چې د دې وس يې راکړ ترڅو د خپل مسـلک اړوند د دې کتاب ژباړه بشـپړه او لوسـتونکو ته يې د پوهې په ډګر د ګټې اخيستنې لپاره مخې ته کېږدم.

په پای کې لـــــه ګرانې خور سـلما حميد څخه د زړه له تله مننه کوم چې د کتاب په ژباړه کې يې راسره مرســـته وکړه. د ورونو غوندې ملګرو، عمران لمر او هارون هلال هم مننه‌وی یم چې تر خپلې وســـې راسره هر ډول مرســـته کړې. ملګري اجمل جنت ته لـه خدايه ډېر عمر غواړم چې کتاب يې بيا ځل وکتلو او خپله برخه خواري يې پـــــکې وکړه. د احساس خپرندويه ټولنې هم مننه چې کتاب يې چاپ کړ.

په پوره درناوي

وصي ابهام

بره پښتونخوا – ننګرهار

Preview (3 / 10) - ketabton.com



# لومړی څپرکی

## د پادشاهانو وسايل

***د ژوند مقصد په پوهه او معرفت کې نه ،***

***په کوښښ او حرکت کې دی.***

توماس هنري هاکسلی[1]

له ډېره وخته مې يې ستاينه اورېـــــده، ويل يې ځوان دی، شـتمن دی، تندرست دی، نېکبخته او بريـــــالی دی، بايد په خپلو سترګو مې ليدلی وای. کله چې د تلويزون لـــــه سټوډيو څخه راووت له نږدې مې وليد او څو هفتې مې وڅارلو، کتل مې چې ټولو ته لارښـونه کوي؛ د يو هېواد له ولسمشره نيولې تر يو کمزوري انسان پورې، کتل مې چې د تغذيې د فن له متخصصانو سره بحث کوي، مديرانو ته ښوونه کوي، له ورزشکارانو سره کار کوي او معلولو ماشومانو ته ښوونه کوي.

ليدل مې، داسې خوښ دی چې باور پرې نه کېدو او کله به چې له خپلې ميرمنې سره په بهرني سـفر ووت، په ټوله مانا به يې مينه ورکوله، له سـفر څخه به چې راستون شو، په ډېره بيړه به په سانتياګو کې خپل کور ته چې په ارام سـمندر مشـهور و لاړ او له خپلې کورنۍ سره به يې څه وخت تېر کړ.

څنګه يې امکان درلود؟ چې يو پنځه ويشـــت کلن هلك چې لا يې پوهنتون کې زده کړې کولې، وکولی شي په دومره لنډ وخت کې تر دې حده بر يالی شي؟ دا هما غه ځوان و چې درې کا له وړا ندې په يو

1. Thoms Henry Huxley

Preview (4 / 10) - ketabton.com



څلوېښـــت متري اپارتمان کې ځانته اوســېدو او د خوړو لوښـــي به یې د تشناب په تشت کې وینځل، څرنګه ممکن و دا ډنګر شخص چې بېخي کم وزن یې درلود، له نورو سره یې اړیکه نه شوای ټینګولی او یو محدود لیدلوری یې درلود، پر یو د پــــام وړ، تندرست او د احترام وړ شخص باندې بدل شي او نامحدود بریالیتوبونه لاسته راوړي؟

دا ټول هغه شیان وو چې باور پــرې نه کېدو، هغه ټکی چې زه یې بېخي حیرانولم دا و چې دا شخص زه خپله وم او دا کیسه زما د ژوند کیسه وه، زه دا ویل نه غواړم چې زما ژونـــد مې له بریالیتوبونو سره مل و، څرګنده ده چې موږ ټول د ژوند جوړولو لپاره بېلابېلې هیلې او افکار لرو، له دې پرته، زما لپاره په پوره توګه مشخصه ده، هغه څوك چې پېژنئ یې، د دې پرځای چې ځئ او هغه څه چې تاسې یې مالك یئ، ستاسې د بریالیتوب واقعي معیارونه نه دي.

زما له نظره د زیاتـــو بریالیتوبونو د لاسته راوړلو لپاره دوامداره هڅه ده او هغه فرصت دی چې د عاطفي، ټولنیز، معنوي، جسمي، منطقي او مالي ودې لپاره وي او په داسې حال کې چې په مثبت ډول پر نورو باندې اغېز وکړي. د بریالیتوب جاده تل صــافه او مناســبه ده؛ بې پایه مســیر دی او نهایي موخه نه ده.

هغه څه چې غواړم ویې وایم، ډېر ســاده دي، زه د هغه اصــولو په کارولو سره چې په کتاب کې به یې ولـولئ، وتوانېدم چې نه یوازې د ځان په اړه خپل احساس بدل کړم؛ بلکې دا کار مې په ډېره عجیبه او د ستاینې په وړ ډول ترسره کړ.

Preview (5 / 10) - ketabton.com



په کې کتاب کې غواړم، هغه څـــه چې په غوره ډول زما د ژوند د بدلون سبب شول، تا سې ته وړاندې کړم، هيله مې دا ده چې له هغه تخنيکونو، ســـتراتېژيو، مهارتونو او اصـــولو څخه چې په کتاب کې به درته مخې ته راشي، ګټه واخلئ او زما په څېر يې پلي کړئ.

هغه عجيبه ځواک چې موږ خپلو هيلو تـــه رسوي، زموږ په دننه (درون) کې شتون لري، د دې ځواک د ازادولو وخت را رسيدلی دی.

کله چې هغې لاری ته ګورم چې زه يې خپلو هيلو ته ورسـولم، ناشـکري نه شم کولی او له شک پرته اوس هم لا د مطلوب کمال څخه ډېره فاصله لرم، په حقيقت کې موږ په داسـې وخت کې ژوند کوو چې ډېری خلک پر دې قادر دي چې پر په زړه پورې شيانو باندې لاس پورې کړي او هغه برياليتوب ته ورسـېږي، چې تر دې وړاندې يې ترې ډار درلود او يا ورته رسېدل ناممکن برېښيدل.

استيوجابز[2] تـــه وګورئ، هغه څوک و چې زړه دريشي يې اغوستې وه او هيڅ پېسې يې ورسره نه وې، د ايپل کمپنۍ جوړولو په فکر کې شو او د تاريخ په اوږدو کې يې له بل هر شخص نه ژر پنځه سوه لوی امريکايي شرکتونه تاسيس کړل چې د خرڅلاو له نظره په سر کې راځي.

ټيډ ټرنر[3] وګورئ! رســـنيز فکر يې وکړ، کيبلي تلويزون يا (CATV) يې ايجاد کړ او يوه امپراطوري يې رامنځ ته کړه، همدا ډول نور اشـــخاص

2. Steve Jobs
3. Ted Turner

Preview (6 / 10) - ketabton.com



لکه استيون اسپيلبرګ[4] يا بروس اسپرينګزتين[5] چې د تفريحي پروګرامونو جوړونکي دي، لي ياکوکا[6] يا روس پروت[7] چې بريالي سوداګران دي.
دوی ټول دې حيرانونکي بريالیتوب ته له رسېدو پرته بله کومه ګډه ځانګړنه لري؟ د دې پوښتنې ځواب ... هماغه ځواک دی.
ځواک، احساسي لغت دی او د هغه په نسبت د افرادو غبرګون متفاوت دی، د ځينو له نظره منفي مانا لري، ځينې د ځواک حرص لري، ځينې احساسوي چې ځواک يې فساد ته کشوي، ګوندې په هغه کې مخالف شک شتون لري.
تر کومه حده ځواک غواړئ؟ په کومه اندازه ځواک ته اړتيا لرئ؟ ستاسې له نظره د ځواک مفهوم څه دی؟
زما له نظره ځواک پر خلکو باندې د حکومت کولو وسيله نه ده او نه هم د خپلې نظريې او رايې د تحميل وسيله ده، البته نه غواړم چې تاسې دې هم دا ډول نظر ولرئ، دا ډول ځواک دوامداره نه وي، خو پر دې يوه خبره بايد پوه شو چې ځواک په نړۍ کې تل ثابت دی، تاسې خپلو فکرونو ته شکل ورکوئ، له دې نه پرته بل شخص ستاسې لپاره پلان جوړوي، زما له نظره، نهايي ځواک، د هغه پايلو د ترلاسه کولو وړتيا ده چې تاسې يې غواړئ او په عين حال کې په دې لاره کې نورو ته اهميت ورکول هم شامل دي. ځواک، د ژوند د بدلون وړتيا او تفکراتو ته شکل

---

4. Steven Spielberg
5. Brue Springsteen
6. Lee lacocca
7. Ross perot

Preview (7 / 10) - ketabton.com



ورکول دي او د دې سبب ګرځي چې کارونه هغه ډول چې غواړئ یې پر مخ لاړ شي، نه په مخالف ډول.

په واقعي ځواک کې برخه اخیستلی شو او تحمیل ته یې هیڅ اړتیا نشته، ځواک، د انساني اړتیاو د تعین وړتیا او هغه اړتیاو تـــه ځواب ویل دي؛ یعنې هم ســتاســې اړتیاوې او هم د هغه خلکو اړتیاوې چې اهمیت درته لري. ځواک، پر خپل شخصي قلمرو د حکومت وړتیا ده؛ یعنې ستاسې د فکر طرز او چلند.

د تاریخ په اوږدو کې ځواک، چې زموږ ژوند یې تر کنټرول لا ندې راوســـت، مختلف شـــکلونه او صـــورتونه درلودل، په پخوا وختونو کې ځواک د فرد فزیکي وضعیت ګڼل کېدو، ځوک بـــه چې قوي او چټک و، د ځان او شاوخوا خلکو د ژوند د لارښونې ځواک به ور تر غاړې و.

د تمدن په پرمختګ سره ځواک، میراثي شکل غوره کړ، پاد شاه په خپل قلمرو کې او د پاد شاهۍ په نښو سره حکمراني کوله، نورو به هم له هغه سره په همکارۍ ځواک ترلاسه کولو، بیا د صعنت په لومړیو وختونو کې شتمني ځواک ګڼل کېدو؛ چا به چې ورته لاسرسی درلود صنعت به یې تر اختیار لاندې و، شـــتمن به له غریب څخه غوره او ځواکمن و؛ خو په اوسني عصر کې د ځواک لویه سرچینه د تخصصي پوهې درلودل دي.

دا خبره به مو ډېر کله اورېدلي وي چې موږ د اطلاعـاتو په زمانه کې ژوند کوو، صـعنت نور د کلتور ښـودونکی نه دی، بلکې پـــه دې برخه کې اړیکې د اهمیت وړ دي، موږ پـــه داسې عصر کـــې ژونـــد کـــوو چې تفکرات، کردار او نوي مفاهیم، نړۍ هره ورځ بدلوي، که دا هر څه د

Preview (8 / 10) - ketabton.com



نړۍ د يوې برخې په توګه وګڼو، تر ټولو لوی جريان به يې اطلاعات وي.

کتابونــــه، فلمونه، غږيز ثبتونه، کمپيوټري ميموري کارډونه؛ د ليدونکو، حس کېدونکو او اورېدونکو اطلاعاتو يو لوی ســيند زموږ پر لور جاري کوي، په دې ټولنه کې هغه کسان چې د اطلاعـــاتو او ارتباطي و سايلو لرونکي دي، هماغه څه لري چې پادشـــاهان يې لري: تلپاتې ځواک.

جان کېنېټ ګالبريټ[8] ليکي: « پيسې د صنعتي ټولنې سون توکی دی؛ خو په اطلاعاتي ټولنه کې ســون توکی او ځواک، خبرتيا ده. دا چې موږ د نوي طبقاتي جوړښــت شــاهدان يو چې په هغې کې يو شــمېر خلک د اطلاعاتو لرونکي دي او يو شـــمېر هم تر اطلاعاتو لرې په جهالت کې چلند کوي، د دې نوې طبقې ځواک نــــه پيسې دي او نه ځمکه، بلکې پوهه او خبرتيا ده.»

هغه مســاله چې بايد ورته پام وشي دا دی چې ځواک ته د رســېدو کيلي زموږ د ټولو په واک کې ده، په منځنيو پېړيو کې که به پادشاه او حکمران نه وې، دې کار ته رسـېدل بـــــه ډېر سـتونزمن وو، د صـنعتي انقلاب په لومړيو کې به دې که شتمني نه درلوده، د ځواکمن کېدو او شتمن کېدو احتمال به دې ډېر کم، خو نن ورځ هر هغه څوک چې ساده لباس يې پر غاړه دی، کولی شي داسې يو شرکت تاسيس کړي چې نړۍ بدله کړي.

8. John Kenneth Galbraith

Preview (9 / 10) - ketabton.com



په ماډرنه نړۍ کې اطلاعات د ځواکمنو وسيله ده، هغه څوك چې پر دې قادر چې په يو ډول تخصصي پــوهه تــرلاسه کړي، پر دې هم قادر دي چې ټوله نړۍ بدله کړي.

اوس له يوې پو ښتنې سره مخ کيږو، له شك پرته په متحده ايالاتو کې د تخصصي پـوهې مختلف ډولونه چې د ژونـد د بدلولو لپاره لازم دي، د ټولو په واک کې دي، په هر کتاب پلورنځي کې، په هر رخت پلورنځي کې او پـــه هر کتابتون کې کولی شي چې هغې ته د پوهې لاسرسی پيدا کړي، کولی شي د و يا ندويي او ښــوونيزو ســمينارونو له لارې ورته لاسرسی پيدا کړي چې موږ ټول غواړو بريالي شو.

د ډېرو خرڅېـدونکو کتـابونو ليکلړ د انســـان د کمال او لوړوالي لـه دســتورالعملونو څخه ډك دي: *د يوې دقيقې مدير، د مانا په لټه، د ابديت په لور پل* او لسـګونه نور کتابونه په دې برخه کې موجو دي، چې ټول اطلاعات پکې شتون لري، بيا نو ولې ځينې په زړه پورې پايلې لاسته راوړي او ځينې نور بيـا پـه رنځ کې اختـه پـاتې کيږي؟ ولې موږ ټول ځواکمن، نېکبخت، شتمن، تندرست او بريالي نه يو؟

د دې کـــــار حقيقت دا دی چې حتی د اطلاعاتو په زمانه کې هم کافي اطلاعات شـــتون نه لري، که يوازې مثبتو فکرونو او ا ندونو کار کولی شــوای، نو په ماشــومتوب کې خو موږ ټولو د خپلو خيالي خوبونو لپاره کوچني اسونه درلودل.

ټول لوی برياليتوبونه له کار او فعاليت څخه لاســته راځي، پوهه او خبرتيا بـــــالقوه ځواك دی او يوازې هغه وخت بالفعل کيږي چې د هغه چا په

Preview (10 / 10) - ketabton.com



واک کې ورکړل شي چې پوهېږي څه ډول اســتفاده ترې وکړي او په همدې وخت کې موثر تمامېـــدای شي، په حقيقت کې د ځواک لغوي تعريف د *کار ترسره کولو وړتيا* ده.

لـــه ځان سره د اړيکې ډول زموږ پر ژوند باندې اغېز لري، په ننني نړۍ کې د ژوند او اړيکو کيفيت دی. د حرکاتو ډول، د بدن د عضلاتو کارول او د څهرې حالت دا ښيي چې تر کومه حده له خپلې پوهې ګټه اخلو؟

کله کله د برياليو خلکو په ليدلو مو په ذهن کې دا منفي تصـــور رامنځ ته کېږي چې هغوی د ځانګړې وړتيا او ا ستعداد لرونکي دي. پر دې سبب که ښـــه پام وکړو پوهېږو، چې تر ټولو لويه وړتيا چې بريالي خلک يې د عادي افرادو په نســبت لري، په عمل کې وړتيا ده او دا هغه وړتيا ده چې موږ ټول يې په خپل ځان کې روزلی شو.

د استيو جابز په وخت کې ډېرو د ده په څېر پوهه درلوده، له ټيډټرنر پرته نور هم پر دې پوهېدل چې کيبلي تلويزونونـــه د ډېر لوړ بالقوه اقتصادي پوتنشيل لرونکې دي، خو جابز او ټرنر پر دې قادر و چې عمل وکړي او په دې ډول کار يې وکړ چې په واسـطه يې نن موږ نړۍ په بل ډول تجربه کوو.

موږ ټول دوه ډوله اړيکې جوړوو چې د هغې په واســطه په ژوند کې تجربه ترلاسه کوو:

١. دروني (داخلي) اړيکه: يعنې هغه چارې چې په خپل ځان کې يې تصور کوو، په ژبه راوړو او احساسوو يې.

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/gAcA3GIKiVx

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.